سوله

اراده د سولې نشته په اشرار کې
نه «سیاف» نه په«حامد »نه«عبدل »یارکې
دوی په اصل کې لاس پوڅې د پنجاب دي
د وطن وي کله مینه په اغیا ر کې
«عبدالله »«یونس »«صالح » او«محمدی »
مجا ور دي د مسعود پنجشیر مزار کې
دوی په سوله کې پا نګې خپل با یلې
بیا میشته به شي له سره په تخارکې
چا چې خپله دا وطن وي وران کړې
باور نه وي هیڅکله په ورانکار کې
نه هیریږي د خلکو له اذها نه
چې شهید کړ افغانان ټول په افشارکې
دوی د شر اوشرات ټول ماهران دي
صداقت هیڅکله نه وي په ټګما ر کې
دپردي په متې چې نا ست وي په قدرت کې
هغه کله وي پخپل واک او اختیا ر کې
د طالب ، اشرار ، داعیش کې څه فرق نشته
بې ګناه افغانان وژني په هرکلي او هرښارکې

افغان وروره اعتبا ر په دوی مکړه
دوی له وخته ځان خرخ کړې په کلدار کې
بدمرغې د افغانان به وي ترکله
باور نشته د«غنې» په هیخ ګفتا ر کې
افغانانو چې پخپله ځان یو نکړې
دخلاصون لاره هیڅ نشته تیت افکا ر کې
***

پوهندوی دوکتور سید حسام «مل»